AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۴/۰۵/۱۷

# زنده باد حزب اسلامي، زنده باد عبدالله عبدالله

د جمعي (يوځای کولو) په تعريف کې موږ مشکل درلود، يواځي خبره د متجانس او غير متجانس وه، اوس هم د لومړنی ښوونځي ماشومان همدغه ستونزه لري، بيا نو ښوونکی مجبور وي چي ساده مثالونه ورته وړاندي کړي.
ګوزئ ماشومانو، دوه سړي جمع دوه سړي مساوي په څلور کيږي، دوه سړي جمع دوه بيرغه نه سره جمع کيږي.
ځکه چي لومړی دوه سړي سره متجانس دي، يعني دواړه سړي دي، مګر بيرغ بيا له سړي سره متجانس نه دی، نو ځکه نه سره يوځای کيږي.
موږ ماشومانو به فکر کاوو چي مثلا دوه نخود، دوه چاکليټ او دوه خرماوي چي سره يوځای شي دا خو شپږ کيږي، مګر متجانس نه دی، دلته يوه باريکي وه، مطلب د شمير وو، چي په قاب کې پراته شيان خومره دي، د متجانس خبره نه وه.
د اسلامي حزب او شمال ټلوالي په اړه هم د يادو ډلو ځينو مشرانو ورته نظر درلود، چي دغه دوه ډلي په يوځای والي کې د متجانس او غير متجانس خبره ده، اسلامي حزب او شمال ټلواله دومره ستونزي يو له بل سره لري چي يوځای کيدل به يې ستونزمن وي.
د ميرويس ميدان (کوټه سنګي) بازار کې د ميني بوس موټرونو لوی کار وان راوان وو، د ولسمشريزو ټاکنو د کمپاين دوه مياشتنی وخت وو، له نن څخه نږدې يوه نيمه مياشت مخکي دغه کاروان زما تر سترګو شو، په شين رنګه لويو ټوټو چي د اسلامي حزب نشان هم پري لګيدلی وو، ليکل شوي وو چي شاخه حزب اسلامي زون غرب کابل، دغه خلک چي دځينو ميني بسونو چوکۍ ډکي وي، په ځينو بسونو کې نيم خلک ناست ؤ، په ځينو بسونو کې د ګوتو په شمار کسان ،داسي ميني بسونه هم ؤ چلونکی او کلينر يکي تنها ښکاريدل، ټول د هزاره توکم خلک ؤ، په همدي ورځ د کابل ښار په يوه څنده کې د ډاکټر عبدالله عبدالله لويه غونډه جوړه شوي وه.
د کندهار ولايت يو مشهور ليکوال مي وليد، هغه ويل چي نابلده درته کوم، هيڅ مي زړه ته نه ولېدل چي کله به همد اسي يو حالت ووينم، په کابل ښار کې روان وم، چي د موټرانو يو کاروان مي وليد، چيغي يې وهلي چي زنده باد حزب اسلامي، زنده باد عبدالله عبدالله
ليکوال وايي چي حيران شوم چي د اسلامي حزب او عبدالله عبدالله يې سره څه، عجيبه ده چي د دواړو نومونو سره همهاله زنده باد ناره اوريدل کيږي.
د ګوندونو او سياسي ډلو يو ځای کيدل بده خبره نه ده، مګر تيرو لسيزو ثابته کړي چي د اسلامي حزب، اسلامي جمعيت او شمال ټلوالي تر منځ پخوانيو تربګنيو ته په کتلو سره دغه دوه ډلي تر ډيره په يو موقف او دريځ کې نه شي سره پاتي کيدلای.
په تيرو انتخاباتو کې ځيني يې د ډاکټر زلمي رسول سره ودريدل، ځيني يې د قطب الدين هلال سره ودريدل او يوه ډله يي له ډاکټر اشرف غني احمدزي سره ودريدل، په ولايتونو کې د اسلامي حزب ډيرو کسانو د حکمتيار صاحب داعلان خلاف د قطب الدين پر ځای ډاکټر اشرف غني احمدزي ته رايه ورکړه، ځينو د اسلامي حزب نظامي قومندانانو خو بيخي خپله خوا واړوله او له طالبانو سره يوځای شول، چي ښکاره مثالونه يي په خوست او چپرهار کې ليدل شوي.
اوس چي دوهيم پړاو ته ممکن ټاکني ولاړي شي، ځيني شنونکي فکر کوي چي امريکا او نړيوال هڅه کوي چي مشترک حکومت د مشارکت ملي په نوم جوړ کړي، چي دواړه ډاکټران (اشرف غني او عبدالله عبدالله) دا ډول د کرزي ټيم به هم يکي ونده ولري. ځيني شنونکي ويره لري چي له موقع نه په استفادې کرزی صاحب لا هم هڅه کوي چي د خپل واک له پاره دوه يا دري کلونه نوره هم موده وغزوي.
امريکا هم داسي معلوميږي چي د افغانستان له جګړې څخه پيني سپکوي، اوس مهال د هغوی له پاره لومړيتوب اوکراين او دوهيم سوريه ده، افغانستان په دريم قطار کې راځي.
د دوهيم ځل ټاکنو له پاره د اسلامي حزب د شوراګانو مجلس چي قاضي امين وقاد، جمعه خان همدرد، انجنير وحيدالله سباوون، د معدنواو پټرولو وزير محمد اکبر بارکزی او د غزني فيضان يکي مشرتوب کوي د تيري جمعي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

(د مئ نهمه ۲۰۱۴) ورځ د کابل په کانتیننټل هوټل کې خپل ملاتړ له ډاکټر اشرف غني احمدزي څخه اعلان کړ، په داسي حال کې چې ډاکتر زلمي رسول چې مخکې دغه د اسلامي حزب ډله ورسره یوځای وه، د ډاکتر عبدالله عبدالله څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. په بله ورځ یې دشوراګانو د مجلس په ځواب کې د اسلامي حزب ارغندیوال (کابل) ډلې د ډاکتر عبدالله عبدالله سره د ملاتړ ژمنه بیاځل تازه کړه، او د یوې غونډې پر مهال یې وویل چې د اسلامي حزب یواځیني استازي همدوی دي، بل څوک حق نه لري چې د اسلامي حزب د نوم له کارولو څخه استفاده وکړي، تر دي مهال ښاغلي هلال له کوم بل کاندید څخه ملاتړ نه دی اعلان کړی.
لویدیځ همدا غوښتل چې افغان په افغان وټکوي، د یوه قوم خلک په بل قوم وټکوي، مجاهد په مجاهد، کمونسټ په کمونسټ او روڼ آندی په روڼ آندي وټکوي.
روانه اونۍ ډیر خلک هغه وخت ویښ شول چې څه ډول د اسلامي حزب د بېلابېلو ډلو استازو د یوې کورنۍ رسنۍ د ټلویزون د پردي پرمخ یوبل ملامتول، سپکول، ان خبره دي ته ورسیدله چې ښاغلي حکمتیار د ټول اسلامي حزب استازیتوب نه شوي کولای، قاضي امین وقاد یې له اسلامي حزب څخه وایست، بل خوا بیا د اسلامي حزب (کابل) د اجرائیه شورا په غړو د کمونسټ دولت پلوو مهر هم ولګیدی.
خلکو او په ځانګړي ډول د اسلامي حزب کسانو به ویل چې اسلامي حزب کدرونه لري، وړ او باتجربه کسان لري، دا ډول یو منظم او قوي ګوند دی، مګر په روانه اونۍ کې چې هر چا د اسلامي حزب د خپلمنځي شخړو دغه جنجالی بحث لیدلي وي، د دوی دغه دعوه نفي کوي چې دغه ګوند څومره کدرونه درلودل او یا یې لري؟
دا ډول په ټلویزوني بحث کې یو بل ته سپک کتل او یو بل ته سپک ویل هغه څه دي چې اسلامي حزب یې د نورو زخمونو سربیره لانور سخت جرحه دار کړ.
په کار خو نه وه چې د اسلامي حزب د بېلابېلو ډلو استازي په دغه ډول بحث کې ګډون وکړي، او بیا که دوی ګډون کولای نو په کار وه چې یو دبل سپکاوی ونه کړي، دسپکاوي پر ځای یې باید یو بل ته مؤدب کلمات کارولي وای، او یو دبل درنښت او عزت یې په خبرو کې په نظر کې نیولی وای، دا بیله خبره ده چې د امتیازاتو په سر اوس یو دبل سره اړم شوي، د همدې بحث په لیدلو به حتماً د شمال ټلواله، ډیموکراټ افغانان، پخواني کمونسټ پلوه افغانان، د ښاغلي کرزي اداره، امریکا او بریتانیا ډیره خوشاله شوې وي. دا ډول به ځینې هغه پخواني د مجاهدینو د ګوندونو مشران او غړي هم خوشاله شوي وي چې د اسلامي حزب د قدرت په وخت کې یې له دغه ګوند څخه ښې خاطرې نه درلودلې.
اسلامي حزب داچې تر هر نامه لاندې وي د دې ګوند مشرانو او غړو یو په بل پسې تیروتنې وکړې، او خپل درنودوالي او وزن ورځ تر بلې له لاسه ورکوي، او تر ټولو ډیر تیروتلي حزبیان هغه خلک دي چې په هیواد کې د امریکا او برغلګرو په شتون کې د چوکۍ او پیسو ګټلو هڅې کوي.
تر ټولو مهمه خبره داده چې افغان خپلواک مشران، ډلې او غړي به د اسلامي حزب له تیروتنو سمه ګټه پورته کړي، لویدیځوال غواړي چې لومړی اسلامي ګوندونه ټوټه ټوټه کړي او بیا یې غړي سپک اوبې عزته کړي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ